PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړي کال (۲۲) گڼه د۱۳٦۹ هـ ش کال ددلوي د۲٤مه »

حمله راکتي جانبازان اسلام برمیدان هوایي بگرام

درصفحه ۸

آزادي غوښتونکو سکانو یو ژورنالست او ٦ کسه نور وژلي دي

امرتسر نوی ډهلی :
دهند په مشرقی پنجاب کې آزادی غوښتونکو سکانو پریوه ژورنالیست ډزی وکړی اوویې وژلو . ویل شوی چې دغه سکانو له تیری پنجشنبی څخه تراوسه دمشرقی پنجاب په مختلفو برخو کې ددی ژورنالیست په ګډون ۷ کسان وژلی دی نوموړی ژورنالیست په یوه هندی اخبار پوری اړه درلوده چې تراوسه دهغی ٦۰ کسه کارکوونکی دسکانو له خوا وژل شوی دی .

په نیول شوي فلسطین کې ۷۰ زره یهودیانو ته دګازضد ماسکونه جوړشوي دي

تل ابیب :
داسرائیلو حکومت هغه ۷۰ زره یهودیانو ته کوم چې دعربو په نیول شویو سیمو اوفلسطین کې هستوګنه لري دزهرجن ګازضدماسکونه تیارکړي .
دغه اقدام دعراقي راکټي حملو په ترڅ کې دکیمیاوي وسلې داستعمال له ویرې ترسره شوی .

دعراق له خوا پر اسرائیلو باندې دمیزائیلو بله شدیده حمله

تل ابیب ددلوی ۲۰مه :
دفرانس پرس نړیوال خبری اژانس خبرورکړی چې دعراق له خوا نن (ددلوی په شلمه) پراسرائیلو باندی دمیزائیلو یوه شدیده حمله ترسره شوه چې دهغی له امله ۲۵ کسان سخت ټپیان شول .
دعراق له خوا پر اسرائیلو باندی دمیزائیلو دغه یولسمه‌حمله ده ویل شوی چې دهغی له امله خورازیات شمیر دکانونه اوکورونه له مینځه تللی .
داسرائیلو دولتی مقاماتو ویل چې دغه میزایل دامریکې «پیټریوټ » ډوله وسلی له خوا خنثی شوی ولی دهغی ټوټې پرچې داسرائیلو دهستوګنی پر سیمو راغورځیدلی دی .

دامنیت شورا غونډه راوبلل شوه

په اووم مخ

حمله بر اقامتگاه صدراعظم انگلستان

درصفحه ۷

دهند په اکثرو ایالتونو کې اعتصاب روان دی

نوی ډیلی :
دهند د«تامیل ناډو» ایالت دحکومت دړانولو په خلاف دهند په اکثرایالتونو کې اعتصاب روان دی چې دهغې له امله دخلکو ورځنی ژوند له مشکلاتو سره مخامخ شوی دی .
دغه اعتصاب دجنتادال اوځینی چپی ګوندونو په غوښتنه پیل شوی ، دهند پولیسو دپارلمان د(۳۰) غړیوپه ګډون (۳۰۰۰۰) کسان ګرفتارکړی دی .

دخلیج دجګړې په هکله داسرائیلي اوفلسطیني ماشومانو احساسات

نیویارک :
دامریکې څخه خپریدونکې تایم جریدی لیکلی دی چې کله پر اسرائیلو باندی دعراق له خوا راکټی برید کیږی نوهلته داسرائیلی اوعربو ماشومانو ترمینځ توپیرښه ښکاره کیږی .
نوموړی جریده لیکی چې کله پر اسرائیلو باندی توغندویی برغل یا بمباردوی نویهودی ماشومان ډیر وارخطا اوډارن وی ، ددی پر خلاف عرب ماشومان دهیڅ ډول پریشانی‌اوخفګان احساس نه کوی
جریده دمقایسی په ډول دیوه عرب ماشوم اویوه یهودی ماشوم احساسات څرګندوی ، عرب ماشوم پداسی حال کې چې دهیڅ ډول خفګان احساس نه کوی ، اودمیزائیلو دراتګ څخه بې غمه پروا نشته ، په پوره ازادی په ښارکې ګرځی ، هغه وایی چې صدام هرڅه رااستوی، هغه ښه دی !اله بلی خوا یهودی ماشوم کله چې دخطر زنګ غږول کیږی پناګاه ته ننوزی دګازضد ماسك اغوندی ، اودحملی دشدت په وخت صدام ته ښکنځل کوی همدارنګه دخطر له زنګ سره سم یهودی ماشومان پټو ځایونو ته تښتی خوفلسطینی ماشومان دپیښی ځای ته ځانونه رسوی ترڅو وګوری څه پیښه شویده .

دپروان ولایت مجاهدینو ددښمن ۳ پوستې فتح کړې

پروان (بګرام) ددلوی ۱٦ مه :
دهغی راپورپه اساس چې دپروان ولایت څخه دقوماندانانو شورا نظامی ریاست ته رارسیدلی ویل کیږی چې ددی ولایت زړورو مجاهدینو دبګرام ولسوالۍ دجعفر خیلو پرپوستو برید وکړ.
ددی برید په نتیجه کې ددښمن ۳ پوستی فتحه شوی ، اوددښمن ۱۸ کسه له خپلو وسلو سره په اسارت نیول شوی همداراز ددښمن دوه عرادی زغروال ټانکونه هم دمجاهدینو په لاس لویدلی .

اسلام ددنیا د۲٤ هیوادونو رسمي دین دي

په اتم مخ کی

دروس حکومت دخپلو کورنیو ستونځو په حل ندی بریالی شوی « ډك چینی »

واشنګتن :
دامریکی دمتحده ایالاتو ددفاع وزیر ډك چینی ویلی دی چې دروسیې مشران پدی ندی بریالی شوی ترڅو خپلی کورنی ستونځی ترخپل کنترول لاندی راولی ، چې داخبره نړیوال امنیت ته خطرناکه ده هغه دروس اوامریکا ترمنځ دوسلو پر کنترول دمعاهدی پر لاسلیکولو شك ښکاره کړ.

د«محمدي لښکر » په نامه یوه فلسطیني چریکي سازمان ۷۰ اسرائیلي پوځیان مړه اوژوبل کړل

بیت المقدس ، ددلوی ۲۱ مه :
دفلسطینی چریکانو یوه مخفی تنظیم چې محمدی لښکر نومیږی داردن پولی سره جوخت پر اسرائیلی پوځ باندی دیوه خونړی برید مسئولیت په غاړه اخیستی .
دفرانس پرس خبری اژانس ویلی چې په عمان کې ددی تنظیم له خوا په یوه رسمی بیانیه کې ویل شوی چې ددی تنظیم مسلمانو چریکانو د«مردار» بحیری ترڅنګ دشپږوساعتونو لپاره داسرائیلی پوځیانو سره جګړه وکړه چې دهغی په نتیجه کې تر ۷۰ زیات اسرائیلی پوځیان مړه اویا ټپیان شول .
دی ډلی ویلی چې ددوی چریکان په هیڅ تنظیم اوسازمان پوری تړلی ندی اوپه ازادانه توګه کارکوی

دناټو پر مرکز دبمونو حمله وشوه

انقره : ددلوی ۲۱مه :
دجرمنی راډیو خبرورکړی چې په ترکیه کې دناټو دکماندویی قواو په یوه مرکز باندی دبمونو حمله ترسره شوه .
په دغه پوځی مرکز باندی دوه بمونه ورګذارشول چې له هغی څخه دیوه بم دچاودنی له امله دپوځی مرکز عمارت ته شدید تاوان ورواښت .
ددغی حملی مسؤلیت د«مسلمانانو انقلابی پوځ »په نوم یوه سازمان په غاړه اخیستی چې تیره ورځ یې یو امریکنی اوسیدونکی هم په ګولۍ سره وژلی ؤ.
دغه سازمان ددی ډول نورو حملو دکولو اعلان هم کړی .

سرمقاله

ولې اسلامي نړۍ دجګړې ډګر دی ؟!

په دې وروستیوڅو کلونو کې چې نړیوالې خبري اواطلاعاتي سرچینې دوېنو توئیدلو اواورونو بلیدلونه خبرې کوي ، مخالفتونه ، جنجالونه اویا تودې جګړې یادوي ، دانسان له لاسه دانسانانو دډله ئیزې وژنې راپوروته ورکوي ، ترټولو زیات ددغوتراژیدیو اوفاجعو ډګر اسلامي نړۍ اومسلمان هیوادونه دي .
دنړۍ همدغه ژوندی نسل چې دکومو جګړو اوفاجعو خبرونه اوري نږدې ټولې داسلامي هیوادونو پرسینه پیښې شوې ، کیدای شي اوان چې ضروری ده چې یو لوری یکې نامسلمان اواسلام ضدقوتونه دي ، که دعربو اواسرائیلو جګړه وه که دلبنان شخړې وې که دهند اوپاکستان ترمنځ جګړې وې اویاهمدااوس

۸ مخ کی

دحق په مورچلونو کې خوشیی !

۳ مخ کی

موږ به په افغانستان کې داسې حکومت جوړوو چې داسلامي اصولو قواعدو اوضوابطو له مخې دیوه اسلامي قیادت درلودونکی وي

« الحاج حقاني »

دجهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ۱۳٦۹ هـ ش

مسکو دیو ملیون افغانانو پر قتل اعتراف وکړ

وحدت

دافغانستان جهاد دروسی امپراطوری لپاره هغه تاریخی گوزارو چی تهول کمونیستی بلاك اوسیستم یې په سداوخود کړ.
هغه واقعیتونه چې پرون دکریملین لپاره دلیدو ورنه وو او پر هغو باندی اعتراف ورته ننگ اوشرم بللکی ماته اوشکست ښکاریده نن نن یې دافغانی مقاومت زور په زور پری منی اواعتراف پری کوی .
مسکو اوس په افغانستان باندې روسي يرغل ته بيله کوم کمی اوزياتی په واقعی بڼه يرغل وويل. د خلکو په اصطلاح «دادی پتهی سردی پتهی بيخ ته زوروردی.»
دادافغانی مقاومت اوجهاد دگذارلومړی نتيجی دي ، وروسته به روسان ترديِ هم په زياتو نامنلو واقعيتونو اعتراف وکړی .
دمسکو له ښارخخه خپريدونکی مشهوره اونيزه NEW TIMES په خپله ٤۹ مه گنه کي د« دشمن ، مجاهدين ، برادرز» ترعنوان لاندې په څرگنده په افغانستان دروسانو دلښکرو ورمرش کيدو ته دروس عسکری يرغل وايی ، دمسکو د NEW TIMES مجله لدې يرغل څخه داسی تريخ تعريف کوی : « په افغانستان کې عمليات بل هيڅ نه وو مگر يوه بی بری عامه وژنه ، دتهول ملت په خلاف يوه جگړه وه .
پوره ۹ کاله روسی جنرالانو روسی عسکروته قومنده ورکوله چې مړه شی اوروسی ځوانان مړه شول حتی په هغو سوځيدلو موټرو اوټانگونو کې چې دسالنگ دلويی لاری دواړو غاړو ته پراته دي ژوندی وسوځيدل ، افغانان اوس دومره ويجاړی روسی اوسپنی په واك کې لری چې په ډيرو کلونو کې بي هم نشی مصرفولای .» له مسکوڼنشريدونکی روسی اونيزه NEW TIMES وروسته ليکی « روسی عسکر نه يوازی مړه شول دوی هم دجگړی په تيرو ۹ کلونو کې نږدی يوملیون افغانان ووژل ، دروسانو څلويښتمی اردو به افغانستان کې وروستی مادل پرمختللی تخريبی وسلی پکاريوړلي .»
دالومړی ځل دی چې روسی نشرات ديو مليون افغانانو په وژلو اعتراف کوی ، اودخپلو سروپوځونو جنايت په گوته کوی داځکه چې دروس عوام دي جگړی دومره ځورول اوونحپل چې نوردحقايقو اوواقعيتونو ديتهولو تحمل نلری .
روسی مجله NEW TIMES وروسته ليکی :
« موږ عادت شوی وو چې په روسی پوځی اسيرانو باندې دمجاهدينو ظلمونه راته وويل شی ، ولی نن موږ هغه کيسي اورو چې روسی کوماندويانو دافغانانو پزی اوغوږونه پريکول اوسلامت سلامت کلی يې له ښځواوماشومانو سره سوځول اوورانول ، په افغانستان کې دروسی عسکرو له جناياتو سربيره افغانی کمونستان هم په وژنو لگيا وو روسی اونيزه NEW TIMES وروسته زياتوی .
« ډير دتعجب وړده ، روسی عسکرو ته داجگړه بی رحمانه اوبی مفهومه وه ، ولی افغانانو ته داسی نه وه .»
NEW TIMES وروسته پدې هکله ليکی :
« سربيره په ازادی اواسلامی ارزښتونو دمجاهدينو هره ډله

اودم مخ کې

په افغانستان کې عمليات بل هيڅ نه وو مگر يوه بې برې عامه وژنه او دټول ملت په خلاف يوه جگړه وه .

پوره (۹) کاله روسي جنرالانو روسي عسکروته قومنده ورکوله چې مړه شي اوروسي ځوانان مړه شول

لاتراوسه يې ماغزه په کرارنه دي!

سيد عبدالله

دافغانستان تاريخی اواسلامی خاوره ددښمنو اوداکه مارو پوځونو دبی شميره تاړاکونو ، گواښ اوبريدونو شاهده ده .
داخاوره له اوله خوږغلگرو ځواکونو دځان لپاره ښه پسته اوغوړه نوړیهگڼلی خودتیرولو په وخت کې يې ستونی غوڅ شوی اودزهرو گوله ورته گرځيدلی . که له يوی خوا ددي خاوری په يادگاری لمن کې ددي خاوری په بچو دچنگيزيانو دظلمونو داستانونه خوندی پراته دي خوله بلی خوا يې دداړه مارو اوزبر ځواکونو په غوښنو اوهډوکو تل ډك دی .
ددی بڼ ښکلا اوخوشبويی که له يوه پلوه ځانته دمينه والو پام رااړوی خودبله پلوه يې په ماليااراوساتونکو کې دازور اوقوت شته چې دهر بدسترگی اوبدنظره سترگی په گوتو راوباسی . داگلبڼ له ورايه خودتماشه چيانو په نظر ښه اوار، تخت اويالښت ښکاری خوله نږدی نه يې کړليچونه دسړی ملاماتوی لوړی اوژوری يې نااشنا سرساموی .
يواځی دهمدی خاوری بچی دي چې په کړليچونو يې ښه ځغاست کولی شی دهسك اوتيټو سره يې اشنا دي .
داځکه چې دي خاوری خپل بچيان ډير سخت سری روزلی ، دناز اونعمت پرځای يې له لوږو اوستونزو زغملو سره بلد کړی دعيش اوعشرت تيرولو پرځای يې دننگ اوپت نغوته ورته کړی اودايی ورښودلی چې هرډول نادودی ، ستونزی اوربړونه به گالی خويواځی زما خوړی غيری ته به داغيارو قدمونه نه راپريږدی ، زما غيږ يواځی ستاسو ده اوزمادغيږی خپلواکی تاسو ته دژوندانه دگردو نعمتونو راز دی ، همدا لامل دی چې دتاريخ په هره مقطع کې ددي غيرتی خاوری پتمنو اواتلو بچو ډيرغلگرو ځواکونو په مقابله کې دخپلی ميرانی اواتلوالی تلپاته يادگارونه انځورکړی .
دشلمی پيړی په سر کې بريتانوی زبر ځواك دخپل زور اوطاقت په نشه کې ډوب دافغانستان دنيولو اوددي خاوری په غيږ کې دهميشنی استراحت اوحکمرانی خوبونه ليدل خودغلته په راتگ سره يې په سردافغانانو په لاس دکوتکوداسی گوزارونه وشول چې تپونه يې لاتراوسه نه دي رغيدلی ، له همدغه ځايه يې قدمونه وښوئيدل ، پښي يې کاواکه شوی اودتنزل پيلامه يې وشوه ، دځواکمنی هغه تغر چې شرق اوغرب ته يې لمنی غځيدلی وی ورو ورو ورټولی اوپه اوسنی برطانيه کې خلاصه شوی .
څوکاله وراندی دنړی يوبل شرميدلی ښکيلاکگرځواك (روسانو) دخپلو سروپوځونو دزور اوځواك په غرورزموږ په شهيد پروره خاوره بريد وکړ په دي تمه چې گنی په خپل استعماری زنځير کې به ددي خطی دبی وسلی اوسيدونکو ترښکيللو وروسته ځانونه دسمندر تودو اوبو ته ورسوی اوبيا به دخليج دتيلو پرځاگانو دډاکی اچولولـه امله ددولت سيتهان همسلوی وی ، راج به کوی اوچې څه يې خوښه وی دنړی په خلکو به يې منی ، خوهغه متل دی وايې چې

پنځم مخ کې

دشلمي پيړی په سر کی بريتانوی زبر ځواك دخپل زور اوطاقت په نشه کی ډوب دافغانستان دنيولو اوددی خاوری په غيږ کې همیشني استراحت اوحکمراني خوبونه ليدل خودغلته په راتگ سره يی په سردافغانانو په لاس دکوتکوداسی گوزارونه وشول چی تپونه يی لاتراوسه نه دی رغيدلي

سميع الله « تازه »

افغانها باید منتظر ختم منازعه خلیج نباشند

قلبهای راکه ازغم وغصه يك ونيم مليون شهيد وهزاران هزار معلول بيوه ويتيم بيش ازپنج مليون مهاجر رنجوراند باردیگر این تشویش میلرزاند که صف فشرده ونیرومند جهاد برحق ملت افغان دراثر بی اتفاقیها کم توجهی به قربانیها کم بهادادن به قربانی های بیشمار وبالاخره توجه زیاد بخود وشخصیت ومقام خود متشتت وتضعیف میگردد .

اگرمابروضع وروال جاری وحالت مستولی برمحیط وفضای جهاد نظر اندازیم می بینیم که ازمدتی باینطرف يك حالت درهم وبرهمی ويك حالت خاموشی ورکود درارتباط به مساله افغانستان به مشاهده میرسد اگرمساله رااززمان قبل ازمنازعه خلیج اغازکنیم عدم اتحاد فشرده وقلبی رهبری جهاد موجب گردید تامشت واحد ونیرومند جهاد ضعیف شده ودروارد اوردن ضربه بردشمن بازداشته شود زمان پر ازتشنجات ورویداد ها است کارایی وموفقیت يك کتله واحد یا واضحترگفته شود يك رهبری زمانی است که با ارای اکثریت دربرابر رویداد ها ورخدادهاموضعگیری نماید اما درصورتیکه حمایت مرکب ازافکار ومنافع مختلف میباشد نه تنها دربرابر وقایع موضعگیری شایسته نمیتواند بلکه فشار خارجی سبب میشود که این کتله واحد متلاشی وازهم پارچه شود.

بروز منازعه خلیج تمام مسایل مهم جهانی راتحت الشعاع قرارداد ودرهمان اوان انهای که با رابطه به افغانستان ومشکل مردم افغانستان همدردی داشتند ازین امرتشویش داشتند که مبادابادا غ شدن منازعه خلیج موضوع افغانستان واواره گی پنج مليون افغان راجهانیان به فراموشی سپارند.

این پیشبینی سیاستدانان بود، اما مردمیکه خود ومنافع خودرا خوب درك میتوانند سرنوشت خود را با سرنوشت دیگران گره نمی زنند ویا به عباره دیگر سرنوشت شان راکسی دیگر رقم نمی زند .

مابارها گفته ایم که ملت مسلمان افغان جهاد رابدون اخذتعهد همدردی وکمك ازکدام قدرت ویا کشوری بادست خالی اغازنموده است اما امروز که ملت مجاهدما سلاح بدست ودراستانه پیروزی جهاد خود قراردارد دراثر خود غرضی ها وخودپسندی ها دريك حالت متشتت وبلا تصمیمی تضعیف میگردد.

این حقیقت است که جنگ خلیج يك حادثه بزرگ درجهان است اما بابه فراموش سپردن همه رنجهای بیشمارملت خویش نباید به تماشای شعله های جنگ خلیج بنشینیم .

رهبران جهادی مسوولیت سنگین وبزرگ دارند تانگذارند که کشتی مرادمردم مادرمیان طوفان حوادث سرگردان گردد ، ملت باید واداشته نشود تا منتظر بماند که چه پیش می اید بلکه رهبران جهاد باقوه فعال ونیرومند جهاد سرنوشت کشور ومردم خودراتعین نمایند نه اینکه منتظر بود تاجنگ خلیج به پایان برسد مساله فلسطین حل گردد کشمکش عرب واسرائیل خاتمه یابد ویسامسایل دیگر جهان حل گردد ، درجهان امروز همه روزه حوادث داغ وداغتربمیان می اید .

درصفحه هفتم

دحق په مورچلونو کې څو شپې!

لیکنه اوراپورتاژ : ر، ملاخیل — عکاسي : احمدسینا « احمدي »

دادی یوځل بیاد پکتیا ددنګو غرونو په لور خوځیدلی یو ، اودسیدګیو پاټك له سرحدی بندر څخه په اوښتو سره دپکتیا په اوچتو غرونو سپیرو دښتو او وچوداګونو مو سترګی لږیږی چې دهر ورتلونکی لپاره یې خپله سینه پراخه کړی !

ددی ولایت هر یو غر دکفر ، طاغوت اویرغلګرو په وړاندی داسلام سربښندنکو سپاهیانو د بې ساری مقاومت بیل بیل تاریخ لری ددی غرونو هره دبره اوهر کمر دمظلومو شهیدانو په وینو سور دی ، اوددی غرونو په هره دره کی د روسی یرغلګرو په مقابل کې دزړورو مجاهدینو سنګرونه او یادګارونه دي اوبلاخره ددې سیمی هره دره اوهرتنګی په خپل وار دظلم تاړاك او وحشت په وړاندی دمظلومو اوبی دفاع انسانانو دبی ساری قربانی ترخه اوخواږه داستانونه بیانوی ددووتنو مسلح مجاهدینو په ګډون زمونږ پنځه کسیزه ډله ددې غرونو او درو په مینځ کې دیوه لنډ سفر څخه وروسته د ژوری په سیمه کې دحضرت عمرفاروق« رض »دغنډ نظام قراول ته ورسیدو ددې غنډ له نظام قراول څخه په تیریدوسره چې په خورا ښکلی او جالب شکل جوړ شوی ؤ ، دنوموړی غنډ قوماندانی ته لاړوکومه چې دغرونو په منځ کې دیوې ترخمکي لاندي سمڅي په شکل په ډیر

مهارت او زحمت سره جوړه شوی وه، ددی سرحدی غنډ ټول داستوګنی اطاقونه په همدی شکل یعنی دغروپه مینځ کې دسمڅی په ایستلو سره جوړ شوی ؤ ، چې لدې لحاظه ددښمن دهوائی بمباری او لری ویشتونکو توپونو له خطرڅخه محفوظ ؤ . دحضرت عمر فاروق غنډ دپکتیا ولایت له خورا پخوانیو جهادی مرکزونو څخه چې پخوا دشهید احمدشاه دغنډ په نام یادیده دپکتیا ولایت دبیلابیلو سیمو په آزادولوکې ددې غونډ مجاهدینو ستر نقش لوبولی اود بی ساری قربانیو په ورکولو سره یې په پوره میړانه د دښمن مقابله کړی .چې په (۱۳٦٤) کال کې دیرغلګرو روسانو او دهغوی د داخلی غلامانو په مقابل کې ددې غونډ دنومیالو مجاهدینو تاریخی مقاومت اوقربانی او یرغلګرو ته دغاښ ماتونکی ماتی ورکول دپکتیا ولایت په جهادی تاریخ کې یورووښانه باب دی .

دحضرت‌عمرفاروق « رض »دغونډ له مهموځایونو څخه یوهم ددی غونډ نظامی موزیم دی چې ددې غونډ دنوروتاسیساتوپه څیر داهم دغرونو په مینځ کې دسمڅی په یوه اوږده اطاق کې ځای پرځای شوی . په دغه موزیم کې دمجاهدینو په لاس غنیمت شوی ودښمن دمختلف ډوله وسلونمونې ایښودل شوی اوددښمن دهری هغی وسلی نمونه چې دپکتیا ولایت په مربوطاتویا دهغه په خوا او شا ولایتونوکې

دوحشی روسانو او دهغوی دمزدور رژیم له خوا پرمجاهدینو استعمال شوی. ددی موزیم دڅرنګوالی په هکله مو دحضرت عمر« رض » دغنډ له سرپرست مسئول حاجی صاحب محمد نسیم څخه وپوښتل چې داسی ځواب یې راکړ ! پدې موزیم کې دجهاد له لومړی نیټی څخه تر ننه پوری له روسانو اویاداخلی ملیشه ؤ څخه نیول شوی ډول ډول درنو اوسپکو وسلو

دسلمان فارسي غونډ دثقیله وسلو یومورچل

هغه سمڅه چې په (۱۳٦٤)کال (٤٠) تنه مجاهدین پکې شهیدان شول

شپږم مخ کې

دعصمت مسلم اودهغه دډلې په هکله څوخبرې

عصمت یو ټیټ رتبه افسرؤ اوپه اقتصادی لحاظ یې دژوند سطحه متوسط الحال او نسبتاً راښکته وه خوکله چې دروسانو لخوا دسپین بولدك اوکندهار هوایی ډګر ترمنځ لارې امنیت ورته وسپارل شو دیوې ورځې څخه بلې ته یې دپیسو ، موټرو ،کورونو اونور اقتصادسریه دعادی او معمولی سرحد څخه واوښته اوورسره جوخت یی دده دخوښې اشخاصو اودمزدوررژیم موسساتوته دلوټماری اولاروهنی مالونو سوغات ورکول اوسخاوت هم زیات شو .

دنمونې په توګه په ۱۳٦۵ هـ ش کال کې یې په سپین بولدك کې دجاپانی ساخت ویدیو کستهو ډك موټر لوټ اوموټر ته یې اوروراچاوه ، ددغو ویدیو کستهونو له جملی څخه یی دوې پایې ویدیو کسته دکندهار ولایت د«واد »ریاست ته ، یوه پایه دهمدغه ریاست رئیس ته ، یوه پایه دنوموړی ریاست پنځم مدیریت مدیرته ، یوه پایه د« واد » دوولسم ریاست ته اودوولس پایې دکندهارولایت د« واد » ریاست روسی مشاورینو ته (چې په واقعیت کی یې دفوق العاده قوماندانانو حیثیت درلود) دسوغات اوبخشش په ډول ورکړل ، دغه سوغاتونه دنوموړو ارګانونو اواشخاصو لخوا په داسی حالت کی قبول شول چې دودکا (شراب) پیکونه یې پورته کړی اودحیوانیت په نیشو کی ډوب شوی ؤ اما په همدی وخت کې دکندهار اوټول افغانستان په ګوټ ګوټ کې دسایبریایي خوګانو (روسانو) اوددوی دپست فطرته مزدورانو (خلقیانو ، پرچمیانو اونورو اجنتهانو) پواسطه دافغانی مسلمانانو دوینو لښتی بهیدل اودوطن کانهی اوبوټهی دمجاهدینو دننګ اولوړهمت په وینو سری اوارغوانی جامی اغوستی وې .

نودعصمت ، روسانو اودمزدور رژیم له کومو فاجعو اوبوګنوونکو تراژیدیو څخه پیل وکړو اوددوی په کومو پستیو اوداړه ماریو یی ختم کړو هغه چی له شمیره وتلی دی .

دعصمت شرابخوری ، فحشاًاوغیرنورمال حالت ورځ په ورځ زیاتیده اوپه دی اخیرو کې یې دډیر کم وخت لپاره هم نورمال حالت نه درلود ، برسیره پردی دملیشی کمیت یې مخ په کمیدو شو اوداسی څرګندیده چی نورنو دروسانو په فلمی او ډرامایی صحنه کې دعصمت رول ددوی په ګټه ندی

دعصمت سره یی دشپږو کالو راهیسی مستقیمی اړیکی درلودې ، عصمت ته په دی باندی قناعت ورکړ چې روسانو ته دبل هرچاپه نسبت عصمت نږدی اوبا اعتباره شخصیت دی اودنجیب پرځای دده مقرری دروسانو خوښه اوپه ګټه یی ده،

> **داسې څرګندیږي چې نورنودروسانو په فلمي او ډرامایي صحنه کې دعصمت رول ددوی په ګټه نه دی اوځای یې باید رشید دوستم ته خوشي کړي.**

اوځای یې باید رشید دوستم ته خوشی کړی ، همدارنګه کیدای شی چې دعصمت ګوښه کیدل دروسانو لپاره دنورو مخصوصو ملحوظاتو لرونکی وی خوپه ظاهری ډول هم داسی څرګندیده چی پورته یی یادونه وشوه. نوروسانو ددی هدف دترسره کولو لپاره داسی سناریو پیل کړه .

د« واد » دوولسم اوپنځم ریاستونو روسی مشاورینو چې عصمت په عمل کې هم لیدل چی نجیب یوازی په پټه اودشپی لخوا بی ګناه خلك شهید وی اوروسان ورسره موافقه لری اما عصمت په رڼا ورځ کې هم دزرګونو خلکو په مخ کې په سلګونو بې ګناه خلك غلبیل غلبیل کولی شی اوروسان نه یوازی داچی ورسره مخالفت نه لری بلکه شاباش هم ورته وایی .

په ۱۳٦٦ هـ ش کال کې دکابل مزدوررژیم دلویی جرګې په نوم د« واد » دوولسم ریاست (د«واد » دوولسم ریاست دوظیفو له جملی څخه یوه وظیفه په قومونو او قبایلو کې داجنتهوری کارپه مخ بیول دی) اودسرحداتو وزارت (ددی وزارت یو شمیر عمومی مدیریتونه مستقیماً په «واد » پوری تړلی چې دملکی مامورینونو دپردی لاندی خپلی دمزدوری اوشیطانی وظیفی سرته رسوی) له خوا ددوی خپل اجنتهان دلویې جرګې دوکیلانو په نوم سره راټول اودکابل پولی تخنیك په اديتوریم کې یې غونډوی کولوته چمتو کړل ترڅو نجیب دیوه قانونی رئیس جمهور په بڼه دنړی اوافغانستان خلکو ته معرفی کړی ، د«واد » دوولسم اوپنځم ریاستونو روسی مشاورینو عصمت ته بشپړه ډاډګیرنه ورکړه اوورته ویې ویل چې موږ دخپل سفارت له لاری دکریملین سره تماس ټینګ کړی دی اواخیرنی فیصله موداده چی دنجیب په عوض باید عصمت دقدرت واګی په لاس کې ونیسی خودې کارته درسیدولپاره دستاسو هلو ځلو ته هم ضرورت شته هغه داچې عصمت باید دخپلی ملیشی یووسله وال ګروپ تیارکړی اوکله چې سهارپه اصطلاح دلویې جرګې تالارته ورننوزی خپل ګروپ ته باید امروکړی

چې ټول محافظین خلع سلاح کړی اویابی له منځه یوسی اونور ټول وکیلان اودولتی مامورین دیرغملو په بڼه وساتی اودنجیب په عوض پخپله ځان درئیس جمهوریه صفت اعلان کړی اوکه چا مخالفت کاوه همغلته به یی له منځه یوسی په دی ډول سره به په اصطلاح ریښتینی پاچاشی اوموږ به دی سم دلاسه په رسمیت و پیژنو. څرنګه چې عصمت نورمال حالت له لاسه ورکړی ؤ اواحیاناً که چیری نورمال حالت یی درلودی بیا یی هم دروسانو دپیشنهاد هرکلی کاوه اوپه دی یی باوردرلود چې که چیری روسان وغواړی په رښتیا هم چې دکارمل په شان نجیب هم روس ته لاس تړلی بیولی شی نوعصمت دروسانو سره یوځای

شپږم مخ کې

جهادي ادب

ولویدې ککرې یوپربل پسې انبارشولې
لاره دغورځنګ یې په سرو وینو بدرګه کړله
هسې ستر طاغوت یې په مورچل کې رانسکور کړلو
دې مؤمن ولس جګه دټول امت شمله کړله

تکل
زنځیرونه

اورنګ زیب «ارشاد»

چې یې دزوی په لاسونو زنځیرزولانه ولیدل پرمخ یې لکه دپسرلي دباران اوښکې راروانی شوی ، لړغونددی وروړاندی شو چې پوښتنه ځینې وکړي ، دموټر موظف پیره دارډیکه ورکړه ځوقدمه وروسته ستون شو کله چې ضابط دشپږوواړو بندیانو نومونه لوستل جمو اوریدل په لست کي دریم نوم دهغه دزوی (جمیل) ؤ . دده دنوم په اوریدلو یې خوله په رپیدلو شوه لکه چې سړی ژړاته نږدی وي اوښنی یې هم په رپیدو راغلی ځکه چې یوځو جمو ماما له ځایه کمزوری ؤ اوبل زنځیر زولانه خپل اولاد هیڅوك لیدلی نه شي نوځکه یی حال بل ؤ .

زړه نازړه یې له لړارام اوسکون وروسته غږوکړ:

جمیله زویه داولی په څه ؟

دده له دې پوښتنی سره بیا پیره دارپسی راغي ورته نږدی ودرید ویی ویل :

ګوره ماما سپین ږیری یی خپل حدوپیژنه ځان راباندی مه بی ابه کوه .

جموماماالږغوندی په شاستون شو حیران دریان ودرید ، چې په دې وخت کې مشر صاحب منصب راغی له ضابط څخه یې پوښتنه وکړه :

کسان پوره دي ؟

ضابط له سلام احترام وروسته ورته وویل : هوصیب لست مي واخست .

مشر صاحب منصب وویل :

څه ته ګوری حرکت وکړی .

کله چې موټر دځرخي محبس په لورحرکت کاوه یو ځل بیا جموماماله لرې فاصلی نه غږ وکړ :

زویه : ستاګناه څه وه جرم دي څه دی ، چې زه خپوه شمه کنه .

جمیل ورته په ډیره زړورتیاوویل :

دادازما جرم ددوی په نظرد لا- اِله الاالله محمدرسول الله ویل دي ، نورهیڅ نشته دانور ملګري چې له ماسره ګوری ټول زما ددارالعلوم اندیوالان دي .

موټر حرکت وکړ پلاریی ځای په ځای ولاړپاتی شو اوزوی یی زنځیرزولانه زندان ته لاړ.

دولسي ادب په ورانګو کې

شهید کاکا

ماته و چې شوتې بیاشهید رایادشو
چې په طمعه داوبو یې وتې ساوه
وچو شوندو یې باندونه تورنیولي
قطره وینه یې په خوله پرته رسا وه
روح یې هغه وخت ورکړی امانت وو
چې ختلې یې کله ستر‌ګه دسبا وه
په تندې یې یوځو کرښو حال ویلو
چا شیندلې پرې دسرو وینو ښکلاوه
عجیبه خوشبویې تلله له بدن نه
چې نیولې خوشبویې توله صحرا وه
ښکلې تن یې په ګولو سورې سورې وو
په سرو شوندو یې دپاک الله ثنا وه

دخیال سفر

باتور شهیدزاده

دوطن په خیال خوبو کې ما ثهل
دهجران په توروشپو کې ما ثهل
یودخیال په سفر لاړمه وطن ته
دوطن سوووډاکو کې ما ثهل
دپامیر دبام په سرشوم رااوچت
هره خوا په سرو لمبو کې ماثهل
چې دښمن ترینه په منډه تښتیدلی
هندوکش په سالنګو کې ما ثهل
دسپین غره کفن په غاړه سپین ولاړو
ننګرهار دننګ وښو کې ما ثهل
دکنړ اوداسمار په غروراجګ شوم
دشمشاد په کږلیچو کې ماثهل
داسې لاړم له لغمان تر نورستانه
دپنجشیر په ګړنګو کې ماثهل
دکابل په هسکو غرونو چې راتاوشوم
دپغمان په شنو درو کې ماثهل
ورته خلاصه مې دغم بوختڅه دزړه کړه
په سپیرو سپیرو ډاګو کې ما ثهل
ماویل ا ې عقاب ددنګو غرونو
یم راغلی ارمانو کې ما ثهل
بیرغونه سپین اوشنه پکې ولاړو
په ویرانو هدیرو کې ما ثهل

ملا اسدالله حنیفي

مه یادوی

ماته دښکلو دبنګرو شرنګهار مه یادوی
ماته دسرو ګلو ښایسته لاله زارمه یادوی
باغ اوبستان مې لولپه کړه دکمون لښکرو
نه کوم چمن شته نه ګلشن شته ګلزارمه یادوی
هرڅه بدل په خاکسترشول دباروت په لمبو
وطن مې ټول داورتبی شو مالیار مه یادوی
خزان خزان راکوچیدلی دشمال له لوري
ماته ګرې په ګرې خلکه ! بهارمه یادوی
زه دالحاد سیلیو مراوې کرم په ځوانه ځوانی
راته پیالې راته ساقي اوخمارمه یادوی
راته په کورکې لښتې جوړدي دیتیم داوښکو
ماته خوندونه کیف اوشور داېشار مه یادوی
وطن مې وران کلی مې ګډکور مې ویجاړ شو خلکه !
په کندوالو کې دبلبلو چغارمه یادوی
هرې کوڅې نه مې دکوندو فریادونه خیږي
ما (حنیفي) ته په تیارو کې سهار مه یادوی

جهادګر

پرکتاب تبصره

پرخه په ترخه

شاعري اوشهکاري

دکتاب نوم : پرخه په ترخه
وېناوال : سعدالدین شپون
خپرونکی : دآزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه وفا
دچاپ کال : ۱۳۶۹ عقرب
خطاط : نورالدین هنریار
شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

پرخه په ترخه دښاغلی سعدالدین شپون دنویو خوږو اوپخو شعرونو مجموعه ده چې پدی وروستیو کې دآزاد افغانستان دلیکوالو ټولنی له خوا خپره شویده .

ښاغلی شپون دپښتو ژبې اوادب له هغو پخواودرنو ستنو اوادبی تیوریسنانو څخه دی چې په پښتو ادب کی یې یقیناً دیوې نوی پانې داړولو ولولې راپارولی دي . دښاغلی شپون دشعرونو دغه مجموعه په رښتیا سره دجهادی ادب په روان بهیر کې له هغی لوړی ادبی ځلاڅخه برخمنه ده چې دی پسی دوختونوسرګردان اوسوالی دی .

ښاغلی شپون پخپلو شعرونو کې دژوند دنویو اوریښتینو تجربو دانځورولو کامیابی تجربی کړی او دیوه نوی سبك د ایجاد بریالی کوشش یی کړی دی .

اولکه چی ښاغلی شپون وایی کــه دده رابطه له وطنی مطبوعاتیانوسره نه وای ستته شوی اولږ ترلږه یی له جهادی مطبوعاتیانو سره خپله رابطه ټینګه ساتلی او په پیښورکې یی څه ناڅه پښی ټینګی کړی وای نوددغــه ډول ادبی اړیکو دټینګیدو اوپراختیا له برکته به لږترلږه دانقلاب فرهنګیالو ژوند ته دنیغ کتلو دومره لویه ستونزه نه لرلی اودشعارونو اوکلیشوله جنجاله به یی هم دتخیل اوقلم ملونی آزادی وای ، خوله بده بخته چی دپښتو ژبی اوادب ستهواوپنډتانو له قرار څخه فرار ته ترجیح ورکړه اودادی له دوولسو کلونو وروسته بیا هم دهماغه زړې سندری غبرګولو ته اړایدل کیږی .

کــه داسی وای نویقیناً به دښاغلی شپون دغه ارمان چی دژوند اوژبی ترمنځ اعتدال دی هم نیمګړی نه وای پاتی

پنځم مخ کې

اوبیا دخوارو اسویلي ؟!!

اوریدلی می ؤ چې دظلم کاسه آخرهم نسکوریږی اودمظلوم دزړه ازارکورونه کلی اوهیوادونه په کنډوالو بدلوی ، خوزه اوس دې یوی لویشتی پلن دیوال ته حیران یم چې په دې باندی معمارخومره خواری کړی اودایی دڅه شی نه جوړکړی دی خوددول څخه داسی بریښی چې دشګی نه زیات پکې سیمټ استعمال شویدی .

خبره بیخي په ډاګه ده چې ددې یوی لویشتی دیوال نه اخوا اودیخوا څه تیریږی داهم دیوه صیب استوګنځی دی چې دخندا اوخوشحالی اوازونه تری راپورته کیږی اوچی پوزه راکاږی نودګلونو اوعطرونو خوشبویی دماغ تازه کوی .

میزونه ، چوکۍ ، کلچې ، کیکونه ، چایونه اومیلمانه دي چې درز غرپ یی جوړکړی اوډپیالو کړنګاری بهرااوریدل کیږی .

پیره داربیچاره په دی موظف دی چې دنووراتلونکو میلمنو تالاشی واخلی معلوم یې کړی چې جناب خپل یا اشنا دی لاڅورته سیخه اوشاهانه دربارته دتلو اجازت ورکړی . بیروبار ځکه زیات دی چې په دې خونه کې بیګاه نوی میلمه خپلې مبارکې سترګې په داسې وخت کې پرانیستي اوراغلی دی چې دهیڅ شي کمی نشته برخه یې له ده څخه ډیره پخوا راغلی ده فقط دده دراتلو انتظار ؤ

بیشکه چې بختور دی که په پردی وطن کی پیداشوی خوپه شاهانه محلونو کې چیرته په خیمه اوکیږدی کې خوبه نوی پیداشوی ؟ اونه به یی دپلارسره دپالنی غم وی چی په راشن پاس کی یی نوم نشته؟ دخدای پاك بختورداسی ځای ته راغلی دی چې دغې درګاه ته ډیریې وسه خلك دسوال اوخیرات لپاره هره ورځ ډلی ډلی ځی اوراځی څوك خوشحاله اوڅوك بینوا لاړشی په پرقیدلو موټرونو کې که هم ځنی خلك راځی خودهغوی کاردغتهو ، غتهو عریضو وی هرشی په بوروبورو پیسی

پنځم مخ کې

عملیات موفقانه برمواضع دشمن درشهر غزنی وشیندند

مجاهدین درعملیاتهای مختلف درولایت غزنی وولسوالی شیندند سی وسه تن ازافراد دشمن راهلاك وتعدادی رامجروح ساختند .
یك منبع جهادی درولایت غزنی گفته است که درهفته اول برج جاری مجاهدین پوسته اطراف شهرغزنی راتحت حملات شدید خویش قرارداده بیست تن ازافراد دشمن راهلاك تعدادی مجروح ویك عراده موتر جیپ حریق گردید ، همچنان ضمن حمله بر پوسته های منطقه سنجدك ، مجاهدین یك پوسته رافتح وپنج تن ازملیشاهلاك ومقداری ازسلاح ومهمات دشمن رابه غنیمت گرفتند.
طبق یك خبردیگر مجاهدین ولایت هرات ضمن حمله بر میدان هوایی شیندند سیزده تن ازافراد نظامی راهلاك وسی تن دیگر رامجروح ساختند .
دراین عملیات که درهفته اول ماه دلوصورت گرفت راکتهای سکر۳۰ علیه مواضع وپوسته های دشمن موفقانه اتش گردیده وموجب تلفات وخسارات زیاد دشمن گردید .

دحضرت عمر (رض) دغونډ یوه ډله مجاهدین

تکیه روز افزون گرباچف به کمونست ها وکی ، جی ، بی

گرباچف رئیس جمهورروسیه به وزیر داخله جدید که یك کمونست تندرو میباشد ترفیع داده وصلاحیتش را درمبارزه باجرایم توسعه داده است.
طبق یك خبر رادیو صدای امریکا ضمناً گرباچف به وزارت داخله هدایت داده تادفتر خاصی رابرای مبارزه علیه جرایم سازمان داده شده ، حمل ونقل مواد مخدروفساد اداری تشکیل نماید.
درخبر امده است که دفتر جدید با کی ، جی ، بی خفیه پولیس روس در جلو گیری ازفعالیت های دسته های خرابکارکار خواهد کرد
مخالفین سیاست های گرباچف درروسیه گفته اند که کی ، جی ، بی تحت این بهانه فرصت خواهد یافت تاازادیخواهان روسیه رابنام خرابکارروانه زندان نماید .

پرخه په ترخه ...

اوپښتو جهادي ادب په ضرور ترډیره نن دژوند له ریښتینو تجربو سره سمون درلود اوپښتون شاعریه بې له رنګینو عینکو مخامخ دژوند په لور سترګی غړولی شوای.
ښاغلی شپون نه یواځی په شعر کی ددغه ډول نوښت فصل پرانستی بلکی په نثر کی یی هم ددغه ډول نویو تجربو یون پیل او جاری ساتلی ، هغه‌که دخپلو کړیو اونه کړیو ګناهونو داعتراف نقشه کښلی اوکه د سمڅي دیارانو کیسه ،
پدغو ټولو کې که له یوی خوا

دژوند اوژبی ترمنځ داعتدال دروحیی دساتل کیدو هڅه اوتلقین شوی نو له بلی خوا دداسی نویو تجربو مواد پکې ځای شویدی چی له یوی مخی دادب لوری خپل فطری اصل اومسیر ته راګرځوی اونوی لاری په نښه کوی .
موږدښاغلی شپون دشعری مجموعی خبره کوله چې زیاتره شعرونه یی دافغانانو دبریمن مقاومت دبیلا بیلو اړخونو عکاسی کوی.دښاغلی شپون شعرونه هغه شعاروزمه شعرونه ندي چې ترټولو زیات دی سرور ښخه تکوی ، دده په شعرونو کې دټولنیزوحوادثو دانځورنی ترڅنګ شعریت غبرګ اوله هغی زیات غزیدلی دی.داشعرونه دافغانی ټولنی دروانو کړاوجنو حالاتو داسی ځلنده اوړسا تصویرونه وړاندی کوی لکه دهغه ماهر نقاش انځورچې له اصل ښخه خوچنده ښکلی رنګین او په زړه پوری وی .
دښاغلی شپون شاعری دجهاد نماینده شاعری ده داسی شاعری چی دنویو خوږښو اودرنو تجربو ښخه ډکه ده .
داردو ژبی مشهور شاعر هارون الرشید دشعر ژباړه واقعاً چې دهغی له اصل ښخه خوچنده خوږه اولوړه ده ، دهجرت دلومړی هفتی ترسرلیك لاندی شعرپه ریښتیا هم چې داسی یو نغدتصویر دی چې دهجرت داخاطره په ابدی اوجاودانی ساتی ، دتاکال داریاب روډ پدغه یوه نیمه کمره کې چې شاعر پکې دهجرت لومړنی اونی تیره کړی دیو کال له پاره زموږ دفترؤ اوما په واروار دشاعر داشعر له ځان سره پکې زمزمه اوتکرار کړی اودزړه زخمونه مې پری تکور کړیدی، دمهاجر خوب یی دیوی بلی سیمی او لیری سیمی دخوبونو پردیس تعبیر دی چې په هغه وطن کې دډیرو پردیسو افغانانو همیشنی خوبونه اوتصورونه دي
دموږیاد"دافغانانودتیر دوولس کلن ژوند دهرکلی اوهرکور یو ژوندی داستان دی اویو ژوندي تصویر. ددغو ځوشعرونو یاودنه ددی له پاره نه ده چې ګنی داپکی منتخب شعرونه دي دښاغلی شپون ټول شعرونه اوګرده مجموعه انتخاب دی دلته لوستونکی په یوه شعر دانتخاب په نوم ګوته نشی ایښودلی
الله تعالی دي دآزاد افغانستان دلیکوالو اتحادیي پام په نیکو لری چی ایله یی دجهاد دادبی کتابونو په خپراوی کې ښه واره ولیده اودسیاست په ستغو یی دادب دخوږو ورګډولو ته پام شو ، موږښاغلی شپون ته ددغه درانه اثر دخپراوی مبارکی وایو او وطنوال یی لوستلو ته رابولو .

لاتراوسه یې ماغزه ...

میږی ته خدای (ج) په قهرشی نووزربې وشی ، دمیږی چې وزر وشی نوتعبیر یې دادی چې دژوند پانه یې زیړه شوه اوعمر یې لنډ شو ، روسانو ته هم چې خدای په قهرشو ، دایللو اوښکیللو مزی یې وسولیدل نودهغی خاوری دنیونی په تکل کې شول چې دهغی تل ددغه راز ډیرو ځواکمنو له کیړیو ډك دی ، دهغه ولس دایللو او تسخیرولو فکریې مغزو ته ورغی چاته چې دتاریخ په اوږدو کې دهرطاغوتی برغلګر اواستعماری ځواك دغرور دماتیدو ویاړپه برخه دی .
دجابرو اوظالمو قوتونو سره زموږ دمومن اوغیرتی ولس په نره دغرې اوحماسی دافغانانو دتاریخ یوروڼ باب دی دروسی امپریالیزم دوحشت اودهشت اوظلم اوتیری په وړاندې زموږ دمسلمان او اتل ولس دپاڅون اومقاومت اودافغانستان دروان تاریخ جوړونکی اسلامی انقلاب په نتیجه کې نه یواځی داچې دنړی یو طلسمی زبر-ځواك راپه ګونډو اودتل لپاره له پښو ولوید بلکی دنړی دمحکومو ملتونو په بدن کې دازادی اوخودی روح پوك وهل شوه ، احساسونه ژوندی شول ، دپیړو پیړیو استعمارځپلو په رګونو کې سری شوی وینی ځوښ وخوړ اوزموږدقهرمان ولس دشهیدانو وینو دنړی په مظلومو اونتلیو ولسونو کې تحرك اوخوځښت پیداکړ اودزبر ځواکونو دډار اودهشت هغه خپسه چې ددوی په مری یې منګولی لګولی وی دافغانستان دمسلمان اومجاهدولس دبریمن اسلامی انقلاب له لاری دلاسته راوړوویاړونو بریو اوکارناموله اغیزی یې دغه خپسه له مری والو ته دازادی دیرداسی تحریکونه چې دخرګندفعالیت اوپه داګه دتحریك چلولو لاربې نه پیژندله دافغانستان دجهاد اودافغانانو دلازواله قربانیو اوسربښندنو په برکت یې دهدف لوری اودمنزل لاره په نښه کړه ، روسی ښکیلاکی ځواك ګومان کاوه چې په مادی لحاظ بې اسری اوبی وسلی افغانان به په ښواونیو کې دسرو پوځونو دمقاومت له برمه پریوځی افغانستان به هم دکمونیزم دمداریو مصنوعی ستوری شی اودتل لپاره به دافغانانو دنګو ښتهو نو ته دغلامی زنځیرونه ورواچوی . خوپه دي خبرنه وو چې دا په اسلام اوازادی مین ولس هرډول کړاو اوسختــه زغملی شی خودغیرت شمله یې داجانبو په وړاندی نه ده ټیټه شوی ، ویې وژل ، ویې ترورل اوویې تړل ، زندانونه یې پری ډك کړل خوددې غیرتی اوداسلام اووطن په ننګه ټینګ ولاړولس په ارادو اوحوصلو کې دذری هومره کمی رانغی ، مقاومت یې لامضبوط اوچتك شو اوددښمن په پلید بدن یې داسی ګوزارونه وکړل چې لوری اوګودرتری خطا ووت ، وتښن دځان په غم اخته شو ، ارمانونه یې خاوری ایری اوخوله یی له وینو ډکه شوه دځواکمنی زولنی یی ماتی اودزوال پیلامه یې شروع شوه

همداوجه ده چې دنړی دکوم شیطانی اوطاغوتی ځواك په مغزو کې دافغانستان دنیونی فکر پیداشوی اوچادی خاوری ته په بربندو سترګو کتلی په نړی کې سپك شوی اوله ابدی زوال سره مخ شوی ځکه نو دتوری اوقلم داتل خوشحال باباهغه بیت ریښتینی مصداق پیداکوی چې وایی :
لاتراوسه یې ماغزه په کرارنه دي
چاچې ماسره وهلی سرپه سنګ دی

اوبیا دخوارو ...

مهمات او... دهرچالپاره خپل خپل ځای ټاکل شوی دی دچالپاره پستی چوکۍ اودچالپاره دسرك غاړه خوهغه هم پدی شرط چی مزاحم کیږی به نه .
دهمدغی دیوال په څنګ کې یوه ښځه چې دډیري حیانه پورته کتی هم نشی خپلی بیخی دزغم وړنه دی دلارویو په زړه دومره تاثیر کوی چی یوځل خامخا ددوی خواته ګوری خدای خبر چی دمور په زړه به یی څه تیریږی ددې هرزګیروی درد به یی دمور زړه ته دسورکړای شوی سیخ نه کم نه وی دخیرات لپاره ناسته ده چابه ورته ددی مبارکې درګاه صفت کړی وی دکاراوخدمت جوګه نه ده ځکه چی یو لاس دغریبې نشته که نه نوهیڅ چیرې به دلته نه وه راغلی اونه به څوك خپله تورسری دچادروازې ته کښینوی،وي به لباسي کارونه به هم وي .
خودانه ، دسترګو نه یی چی یوه یوه اوښکه راتویږی دڅادر په پیڅکی یې په داسی چل ول وچوی چی څوك پری پوهیدی هم نشی .
په لږساعت کې یې څومره ځایونه بدل کړل دموټرو ځای نه

مخی ته یی ددووکلونویو ناروغه کوچنی په خاورو اچولی دی کله دمور غیږ اوکله دسرك غاړه.دڅادر په یو پیڅکی تري مچان شړی اوهغه هم په کینۍ لاس ځکه چې ښی لاس یې په بم الوتی دی په مخ اولاسونو کی دزخمونو نوری نښی نښانی هم لیدل کیږی زخمونه لاتازه دي ځکه مچانوور باندی بیرویار جوړکړیدی دکوچنی زګیروی وی هرموټر چی راشی هارن وکړی نومجبوراًله هغه ځایه بل ځای ته ولاړه شی ځکه چی موټروان ته خو څه ویلی نشی اودموټر مخکی خوځول خو ناروا ځکه دی چی پیره دارته څه یوه شی چی میلمه په څه شی کې راغلی دی هسی نه چی قدرکی یې کمی راشی له بده مرغه څوك یی پاڼه هم نه اړوی چی اخرته کومی مجبوری تردې ځایه رارسولی یې .
پیره دارغریب یی وینی څه وکړی پخپله مزدور دی .غلام دی ،مریی دی ، دخبری حق نه لری اونه یی کولای شی کاریی فقط تالاشی ده اوپیره دارهم وایی چې زه به دچاچاپه غم وژاړم زما پلار به دی ته ټینګ شی یو دوه خونه دی په زرهاو خلك دي .
کری ورځ یې دسرك په یوه خوا اوبله خواتیره کړه په سوونو زګیر وی کوچنی وکړل اوپه سوونو دموراسویلی یې سپیلنی شول قضایی ماښام یې خپل نازولی بی پلاره بچی په ډیره سخته په اوږه راواړاوه خپل ګوډلاس ته یې څوڅوکرته په کرکجن نظروکتل اودسر په خوځولو یی دصیب کورته سلامونه وکړل اوخپله لاره یی ونیوله ددې تګ ، راتګ دصیب دکور په خوشحالی کې هیڅ کمی زیاتی رانه وست توبه مې وښکله چې خدایه پاکه خیرراپیښ کړی پخوابه یو اسویلی کورونه ورانول خوزګیروو اواسویلو دغه یوه لویشت پوخ دیوال راونه غورځوه پاتی خولا دکوررونو ورانول، خوسمدستی می زړه ټکان وخوړ چی لیونی کیږه مه اسویلو ، زګیروو ، اوازارونو به ورانی کړی وی خوچیرته دځمو ، لوټو ودانیو ، خوپه دی ودانیو دبلهوزروس هم نه رسی پاتی خو لادخواروخولو اسویلی .

دحق په مورچلونو کې

اومهماتو نمونی ځای پرځای شوی دغه اسلحی دجهاد په دوران کې دپکتیا ولایت په مختلفو سیمو زرمت ،ارگون ، اوداسی نورو سیموکې ددښمن څخه یانیول شوی اویا وروسته له تخریب څخه په لاس راغلی

ددغه موزیم په یوه کونج کې هغه وسلی چې مجاهدینو دجهاد په ابتدائی دوره کې ددښمن پر خلاف استعمالوی لکه توره ، درهیی توپك ، بوتلی بمونه ، ځای پرځای شوی دي چې ددې موزیم ښکلا ئی لا زیاته کړی ده همدارنگه دمزدور رژیم اوروسانو په پوستو او مرکزونو کې نیول شوی اسناداو کاغذونه چې دخلق گوند دغړی توب کارتونه ، دسلاح اومهماتو دنقل اوانتقال جوازنامه دروسی عساکرو دپیژندگلوی کارتونه ،کابل دمزدور پوځ تبلیغاتی پانی ،مجلی اوکتابونه ، همدارنگه دخینی ژوندی نیول شویو اویا وژل شویو ملیشه ؤ اوعساکرو تصویرونه پکې شامل دي ،

ددغه موزیم پر یوه اوږده میز باندی پراته دي چې درژیم له ذلت ماتی اوبي همتی څخه پرده پورته کوی

دروسانو اومزدور رژیم دجوړی او تخریب شوی وسلی سربیره دهغو مړو او اسیرو عسکرو تانکیستانو او کماندوئی پوځونو پوځی لباس محاربوی خولی دتانکیستانو خولی پراشوتی جامی ، چې مجاهدینو په بیلابیلو سنگرونوکی له هغوی څخه ترلاسه کړی ددی موزیم په بله برخه کی اینښودل شوی چې دافغانستان دجهادی تاریخ رنگینی پانی جوړوی .

حتی پدی موزیم کې ددښمن په پوځی مراکزوکې نیول شوی دهغوی دپخلی دیگونه (دیگ بخار) هم لیدل کیږی چې خاص دنظامی قطعاتو دپخلی قروانی لپاره جوړشوی .

دموزیم په بیرونی دروازه کې ددښمن هغه لوی مختلف ډوله توپونه او ثقیله وسلی اوهمدارنگه دراغورځول شویو الوتکو جسدونه اینښودل شوی چې زمونږ دجهاد یورنگین تصویر تشکیلوی

ددې تاریخی موزیم له لیدلو وروسته دحضرت عمر فاروق «رض» دغونډ دجهادی سنگرونو په لیدلو بوخت شوو چې دمختلفو غرونو په څوکوکې دمجاهدینو دثقیله اوخفیفه وسلو له خوا ساتل کیدل پدې جریان کې مو دعمرفاروق «رض» دغونډ هغه تپه هم ولیدله چې (۱۳٦٤) کال کې ددښمن دستر هوائی او ځمکنی برید له امله ددې غونډ دخوتنو مسئولینو په گډون «٤٠» کسه زړور مجاهدین په یوه ځای په شهادت رسیدلی ؤ دغه پیښه دروسانو اودهغوی دمزدورانو دهغه یرغل په ترڅ کی رامینځ ته شوه چې پوره قوت او شدت سره دژوری په سیمه او دعمر فاروق «رض» دغونډ په تاسیساتو ترسره شوه او دلری ویشتونکو توپونو او هوائی الوتکو په ذریعه ئی څه دپاسه څلویښت کسه هغه مجاهدین چې دغرونو په مینځ کی یوی سمڅی ته یې ددښمن له هوائی برید څخه پناه وړی وه شهیدان کړل ددې پیښی ځای نن هم هماغسی وران پروت دی او په خپله ورانه ژبه دخومظلومو انسانانو دظلم وحشت اوبربریت دغه افسانه بیانوی !

او همدارنگه هلته هغه سمڅه هم مونږ ولیدله چې دستر مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی په شمول خوتنه مجاهدین په همدغه یرغل کې ددښمن دبمباری له امله پکې ایسارشول دبم په وجه دسمڅی خوله بنده شوه اوپکې مجاهدینو دشهادت په انتظار شپې تیرولی چې دخدای «ج» پربنده گانو یوه عجیبه غوندی حادثه بیا پیښیږی او دمرگ په خوله کې ننوتلی مجاهدین بیرته روغ رمټ راوزی هغه دا چې ددښمن الوتکی بیا بمونه غورځوی ددوهم خل بمباری په اثر دبندی سمڅی خوله بیرته خلاصیږی اودحقانی صاحب په گډون ټول مجاهدین خدای «ج» روغ رمټ ساتی .

«نوربیا»

دحضرت عمر(رض) دغونډ اړوند دغنیمتي وسلو دموزیم یوه ننداره

دتوري غاړي په مشهورمورچل کي یوه ډله مجاهدین

دعصمت مسلم اودهغه دډلي . . .

نومړوی پلان مطرح اوعملی کولو ته یې تیارشو.

روسانو دعصمت سره ددوی ترتیب شوی پلان ټکی په ټکی نجیب ته څرگند اودعصمت دناکامولو لپاره یې دپلان په جوړولو عملی اقدام پیل کړ . روسانو اونجیب دعصمت اودهغه دوسله وال گروپ له منځه وړل دکورنیو چارو وزیر ته وړپه غاړه کړل اما دکورنیو چارو وزیرخپل مشکلات اونیمگړتیاوې روسانو اونجیب ته په گوته کړې اوددې کار دعملی کولو څخه یې ځان عاجز وباله ، بالاخره دعصمت پلان دشنډولو په خاطر د«واد» پنځم ریاست اوپراتیفی کنډك ته وظیفه ورکړل شوه چې داکارترسره کړی .

ذکر شوی کنډك دپه اصطلاح لویی جرگې ددایر یدو په ورځ

دکابل په « گردنه باغ بالا » کې موضع ونیوه عصمت سهار په اتو بجو دخپل مسلح گروپ سره یوځای دکابل دوزیر اکبر خان مېنې څخه دکابل پولی تخنیك په طرف حرکت وکړ . کله چې « گردنه باغ بالا » ته ورسید دنومړوی کنډك لخوا د«دریش» غبرګ وشو عصمت موټر بریك کړاوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چې ولی اوڅه پیښه شویده ، هغوی ورته وویل چې هیڅ چاته اجازه نشته چې ددی ځایه څخه تیر شی عصمت ورته وویل چې قوماندان موځوك دی هغوی خپل قوماندان ورته په گوته کړ ، عصمت سم دلاسه دتوفنگچی ډزې پرې وکړې اودنومړوی کنډك قوماندان یې ځوځایه تپی کړهمداوخت ؤ چې ددواړو خواؤ رنگونه دمړو پشان ژیړاوښتی ؤاوپه لړزاندو اندامونو اوریږدیدونکو لاسونو بی بو پرېل باندې ډزی پیل کړی.

ددغو دوو (نجیب اوعصمت ډلو) جگړه دکومو چی دپړبو سرونه یی روسانو په ښی اوکیڼ لاس کې نیولی ؤ څودقیقی اوږده شوه چې په نتیجه کې دعصمت ډلې دیارلس تنه مردار اواووه نفره ټپیان شول اوپخپله عصمت هم سخت ټپی شو .

دنجیب له ډلی چی پخوایی موضع نیولی وه څلورتنه مرداراوپنځه تنه ټپیان شول. دلته ؤ چی نجیب په دوه نیم تاره بریتو باندی لاسونه ووهل اوټولی نړۍ ته یې اعلان کړه چې دیوی لویی بلا څخه یې ځان ته په پوره تدبیر ، پوهه ، لیاقت اوقوت سره نجات ورکړ.

په همدی ماښام دباندنیو هیوادونو ژورنالستانو دنجیب څخه پوښتنی پیل کړې اونجیب دیوی پوښتنې په ځواب کې داسی وویل :

« ددغی پیښی په نتیجه کې دواړو طرفو مړه اوزخمیان درلودل اوعصمت دنشه یی موادو دزیات استعمال په وجه خپل نورمال حالت له لاسه ورکړی ؤ څکه یی داسی عمل ته اقدام وکړ. »

> **روسانو اونجیب دعصمت اودهغه دوسله وال گروپ له منځه وړل دکورنیو چارو وزیر ته ورپه غاړه کړل اما دکورنیو چارو وزیر خپل مشکلات اونیمگړتیاوی روسانو اونجیب ته په گوته کړي اوددي کاردعملي کولو څخه یي ځان عاجز وباله**

خودغه دروسانومزدور (نجیب) هغه وخت ولی چوپ اوهیځ یې هم ترخولې نه راوتل کله چی دعصمت اودهغه ملیشی پواسطه بي گناه خلك چور اولوټ کیدل اوهغه وخت خو بي روسانو په خوله مهرلگولی ؤ کله چې دنومړو په واسطه په سلگونو بی گناه خلکو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ ، پت اوعزت ته یی بی حده بی حرمتی وشوې .

همدارنگه همدااوس رشید دوستم اوډلې ته یی اوهم نورومليشيانوته خوسترگی هم نشی وراړولی چی دافغانستان په ټولو هغو ښارونو(خصوصاً کابل کی) چی دمزدوررژیم ترتسلط لاندی دی په چوراوچپاول ، دبی وزلو وژل اوهرډول فاجعو اوبی ناموسیو کی دعصمت اوډلی سره یی سیالی کوی اودروسانو له اجازی پرته بد خولاڅه کوی چی ښه هم نشی ورته ویلای اودبت په شان ږدی اوخواری سترگې زمبلی هم نشی .

دسناریو دختم کیدو څخه وروسته یی عصمت دعسکری قواؤ په نوم مرکزی روغتون (څلورسوه بستریز) ته نقل کړاوروسان یی دېر زرپوښتنی ته ورغلل اوورته وبې ویل چې اصلاً پلان دې صحیح عملی نکړای شو ځکه ناکام پاتی شوې عصمت یي دیوی ورځی څخه وروسته روس ته انتقال

کړاوهلته یی ټپونه جوړشول خوکله چې بیرته راستون شو داسی څه یې پرې کړی ؤ چې ددروازی دپوری کیدو اووازیدو څخه به هم ډاریدو . عصمت وروسته بیا شل (فلج) شو اود۱۳٦۹ هـ ش کال په اخیرو کی په مرموز ډول سره له منځه ولاړ .

احمد ونیفر څنګه دنیکمرغۍ غېږې ته پناه راوړه؟

په راتلونکې ګڼه کې

دکندهارپه ولایت کې دعصمت مسلم له ملیشاؤ څخه ۳۰ کسه مجاهدینو ته تسلیم شول

کندهار:
دهغه راپورپه اساس چې دکندهار مجاهدینو په کویټه کې دمیدیا نمایندګی ته استولی ویل شوی چې عصمت مسلم له ملیشاؤ څخه (۳۰) کسه له رستم نومی خپل یوه قوماندان سره مجاهدینو ته تسلیم شوی .
دغه ډله چې ددلوی په ۱۵ مه مجاهدینو ته تسلیم شوی دکندهار ولایت دسرپوزه په منطقه کې یې ددښمن داول اودوهم نمبر پوستو ساتنه په غاړه درلوده .
خبرزیاتوی چې دکندهار ولایت ته نوی راوستل شوی دجوزجانی ملیشی اوعصمت دډلی دافرادو په مینځ کې دیوی نښتی له امله دجوزجانی ملیشی ۳۰ کسه وژل شوی او٤٥ کسه نور ټپیان شوی دي .
دعصمت دډلی تسلیمیدل اوله جوزجانی ملیشاؤ سره دهغی دنښتی علت هغه اوازی دي چې ویل کیږی عصمت په کابل کې وژل شوی اودکندهاردقول اردو قوماندان غواړی دجوزجانی ملیشهٔ په راوستو سره دعصمت ډله له مینځه یوسی .

دبالتیک جمهوریتونو دګورباچوف دریفرندم پروګرام تحریم کړ

ماسکو (درویتر خبری اژانس):
دروسیی جمهوررئیس ګورباچوف له خپل ولس څخه غوښتنه کړی ترڅو ددې هیواد یووالی او اتحاد وساتی .
ولی تجزیه غوښتونکو اواعتدال غوښتونکو ډلو دغه تشویش څرګند کړی چې ګورباچوف به دراتلونکی میاشتی دریفرندم نتایج داستبداد دتسلسل لپاره استعمال کړی.
ګورباچوف په یوه تلویزیونی وینا کې ویلی دي چې دیوه نړیوال سترطاقت په حیث دروسیی پاتی کیدل ، دمارچ داولسمی نیټی په ریفرندم پوری تړلی دي .
پداسی حال کې چې دبالتیک درې جمهوریتونو دخپلی ازادۍ اعلان کړی اوویلی یې دي چې پدغه ریفرندم کې ددې جمهوریتونو برخه اخیستل به دروسیی دخاوری دیوی برخی په توګه دهغان ګڼلو مترادف وی .

حمله بر اقامتگاه صدراعظم انگلستان

اردوی جمهوری خواه ایرلند مسوولیت حمله برمحل اقامت صدراعظم انگلستان رابه عهده گرفته است .
طبق یك خبر رادیو بی ، بی ،سی بروز جمعه گذشته یکی ازافراد اردوی جمهوری خواه ایرلند سه بم راازپشت یك موتر که دردوصد متری محلّ اقامت جان میجر صدراعظم انگلستان پارك شده بود بسوی اقامتگاه پرتاب کرد که یکی ان بداخل باغ ساختمان مذکور افتاده موجب شکستن شیشه های قصر گردید .
درین حادثه بکسی اسیبی نرسیده است .
طبق خبر درزمان پرتاب بمها صدراعظم انگلستان باوزرای بلند پایه انگلستان دررابطه به وضع خلیج مصروف مشوره بود رادیو ازقول شاهدان عینی گفته است موتریکه ازان برقصر فیرصورت گرفت اتش گرفته اما ضارب بااستفاده ازموتر سیکل که درهمان نزدیکی درانتظارش بود فرارنمود .
قبلاً درسال ۱۹۸۵ نیز درحالیکه حزب محافظه کارجلسه سالیانه خودرا درلندن تدویر نموده بود افراد اردوی جمهوری خواه ایرلند با بم حمله نمودند که دران واقعه تعدادی مجروح شدند.
باید گفت که اردوی جمهوری خواه ایرلند (I . R. A) گرچه بصورت دوامدار برمنافع دولت انگلیس حمله می نماید اما حمله اخیر میتواند جواب مثبت به تقاضای صدام حسین رئیس جمهور عراق باشد که ازسازمانهای مخفی وتند رو تقاضای عملیات برضد منافع کشورهای متحد علیه عراق نموده بود.

سیلاب مدهش ولسوالی هزارجفت رابه ویرانه مبدل ساخت

طبق اطلاع واصله ازولسوالی هزار جفت ولایت هلمند دراثر سرازیر شدن سیلاب ناشی ازبارانهای اخیر بیش ازبیست تن هلاك ده ها هزار هکتار زمین زیر اب وتقریباً پنجهزار منزل ویران گردیده است
اژانس خبری میدیا ضمن نشر خبر فوق می افزاید برعلاوه تلفات وخسارات فوق صدها راس مواشی نیز هلاك گردیده است
درخبر امده است که خسارات وتلفات بیشتر به کوچیها وارد امده ودرمیان تلف شده گان بیشتر ین رقم رازنان واطفال تشکیل میدهند همچنان سیلاب مذکور اراضی وسیع زراعتی رادرولسوالی مذکور تخریب نموده است .
درخبر به نقل ازمنابع مجاهدین گفته شده است سیلابهای مذکور کی طی سالهای اخیر بیسابقه بود درولایات جنوب غرب کشور سبب تلفات وخسارات زیاد شده است .
منابع گفته اند که به نسبت نداشتن اسباب ووسایل کمك واسکان مصیبت دیده گان مشکلات فراوان دارند .

دلتو یا په مرکز کې دروسي پوځونواوازادۍ غوښتونکو ترمینځ سختې نښتې

مسکو:
نړی والو اژانسونو خبرورکړی چې دبالتیکی ریاست لتویا په مرکز (ریګا) ښارکې دازادۍ غوښتونکو اوروسی پوځونو ترمینځ سختی نښتی شوی چې په نتیجه کې یې ډیر کسان مړه اوژوبل شوی دي .
ویل کیږی چې په دغه جمهوریت کې دروسی پوځونو دشته والی پرخلاف شدید مزاحمت روان دی ، اودمرکز پر مهمو ځایونو باندی دروسانو دقبضی له ویری ازادۍ غوښتونکی ډلی په رضا کارانه توګه ساتنه کوی .

رئیس جمهور سابق بنگله دیش درانتظار محاکمه است

حسین محمد ارشاد رئیس جمهور اسبق بنگله دیش بتاریخ شانزدهم فبروری دریکی ازمحاکم داکه مرکز بنگله دیش محاکمه خواهد شد .
موصوف که درششم ماه دسمبر ۱۹۹۰ دراثر اعتراضات شدید مردم علیه حاکمیت اونا گزیر به استعفاازحاکمیت هشت ساله گردید متهم به داشتن اسلحه ناریه غیر مجاز ، اختلاس وسوٌ استفاده ازقدرت واخذ بازپرداخت ازیك شرکت هوائی بریتانیا میباشد
مخالفین تقاضادارند تاموصوف به محبس انتقال گردد اما قاضی محکمه بنگله دیش به نسبت متوجه بودن خطر جانی به وی ازفرستادن به محبس مخالفت ورزید.

مسکو دیو ملیون...

دخپلی خاوری کوراوکورنی لپاره جنګیده . »
روسی نشرات پدې ډول اعتراف کوی چې پدې جګړه کی یوطرف روسی عسکردهیڅ په لاړکې مړه کیدل اوبل طرف افغانان دخپلی ازادۍ ،اسلام ،کور اووطن لپاره په مقدس جنګ کې قهرمان مړه کیدل .
په زړه پوری ده چی دمسکو له نشراتو څخه د NEW TIMES په مجله کی دمشهور روسی لیکوال LOENID MLECHIN څخه دافغانستان داسلامی تحریك دپیل تاریخ اواړیکی واورو چې روسانو به تل پدې امریکایی اوانګریزی ټاپی وهلی ، دلته MLECHIN دافغانستان داسلامی تحریك اصلیت اوله امریکا اوپردیو سره دزدوبند نه درلودل اودداود دمستبد حکومت ظلمونه په واقعی بڼه ترسیموی اولیکی :
« په افغانستان کې دمقاومت غورځنګ دروس سیاسی بیرو د۱۹۷۹ کال ددسمبر له حساسی غونډی پخوا رامنځ ته شوی ؤ دداوُد حکومت داسلامی حلقو په منځ کې چې داخوان المسلمین له نړیوال تنظیم سره یې اړیکی درلودی ، سخت نفرت راپورته کړ ، دافغانی بنیادګرو مسلمانانو مرکز دکابل پوهنتون مخصوصاً دشرعیاتو او انجنیری پوهنځی وی دداوُد له کودتا وروسته بنیادګر پاکستان ته مهاجرشول چیری چې هغوی اسلامی ګوندونه جوړکړل اوپه پاکستان کې دمقاومت ټول مشران لکه پروفیسور برهان الدین ربانی ، مولوی محمد یونس خالص ، مولوی نصرالله منصور ، مولوی جلال الدین حقانی اوحکمتیار سره یوځای شول دروسی لیکوال ملی چین MLECHIN دالیکنه دافغانستان داسلامی تحریك دازادۍ .تشکیل اومبارزی په استقلال یوڅرګند اعتراف دی چې دمسکو د NEW TIMES مجلی د۱۹۹۰ کال په ٤۹ ګڼه کی دتاریخ پاڼی ته سپارلی دی ، داسی به انشاالله په نژدی راتلونکی کې زموږ دجهاد ډیر دښمنان زموږ دلاری اوتاریخ په حقانیت اوسپیڅلتیا اعترافونه وکړی .

دخلیج دجګړې په اړه دملګروملتونو دامنیت شورا غونډه را وبلل شوه

نیویارك ، ددلوی ۲۰ مه :
دخلیج جګړی په اړه دغوراوبحث لپاره دملګرو ملتونو دسازمان دامنیت شورا غونډه راوبلل شوه.
دامنیت شورا رئیس ددې خبری وضاحت ندی کړی چې دغه غونډه به دتړلیو ورونو ترشاوی که په خلاصه فضا کې .
دغونډی درابلل کیدو فیصله دتیری جمعی په ورځ دامنیت شورا دغړیو دیوه خفیه شورا په ترڅ کې وشوه ، په دې لړ کې یمن او کیوبا غوښتنه کړی ترڅو دغه جلسه په ازاده فضا کې وی ولی امریکی اوانګلستان پدې دلیل ددې ډول غونډی مخالفت کړی چې له هغی څخه دعراق مشر صدام حسین ته ګټه رسیږی .
دامنیت شورا دغه اجلاس به دراتلونکی چهارشنبی په ورځ دایریږی

ولې اسلامي نړۍ دجګړې ...

سوځیږی اوخاورې کیږي .
لا دزیات خفګان خبره داده چې په خلیج کې دجګړې اوربل دی خومسلمان هیوادونه لاپه ناندریو سر دی ، نه پوهیږو چې اسلامي نړۍ به څه وخت راویښیږی اوکله به یې له سره دپردیو دشیطانی دسیسو له امله دجګړې ، وینې تونیدو اوبدبختۍ وریځې لرې کیږی؟!!.

افغانها باید منتظر ختم ...

واگر نظاره گربمانیم ازخویش بی خبر ودرتعین اینده خود ناموفق خواهیم ماند .
باشعله ورشدن جنگ درخلیج مهاجرین افغان بادرك وضع موجوددرمیان مهاجرین ازهمدیگر نا امیدانه می پرسند که مساله افغانستان چه خواهد شد ؟ مهاجرین ومجاهدین هنگامی بیش ازپیش ناامید میشوند که درصحنه سیاسی جهاد یك پراگنده گی وعدم اتحاد سیاسی چشمگیراست.
دولت موقت مجاهدین باوجودیکه دراثر عدم هم اهنگی رهبران ناتوان شده بود با بروز بحران مالی وازکارکشیدن بیش از بیست هزارمهاجرین بیش ازپیش ناتوان گردیده است وبا مشاهده این وضع مهاجرین ازاتخاذ یك موضع وموقف واحد بخاطرتعین سرنوشت اینده جهادوملت ازسوی رهبری جهاد کاملاً ناامید می گردند .
بیائید منتظر نمانیم تادیگران سرنوشت مردم ما را مشخص کنند و معطل نشویم تامنازعه خلیج حل گردد وبدنبال ان بسا مسایل دیگر حل گردید ه ونوبت حل مساله افغانستان برسد بلکه لازم است درین مرحله دشوار همانطوریکه به تنهایی اغازنموده ایم باردیگر باصداقت وایمان به معاونت رب العزت وباقلب های پاك واتحاد واقعی سلاح برداشته جهاد رابه پیروزی رسانیم .
اما اگر منتظر بمانیم وملت مجاهد ومسلمان افغان رانیز درانتظار گذاریم این جفا خواهد بود برملت ایکه یك ونیم ملیون شهید وملیون ها معلول بیوه ویتیم به جهاد ارایه داده است .
باعمل وبا بدست گرفتن ابتکار عمل درصحنه سیاسی ونظامی لازمست باین حرف خط بطلان کشید که جنگ خلیج موجب فراموشی پرابلم افغانستان گردیده است ملتی که اگاه وبیداراست هیچگاه نمی گذارد تافراموش گردد بلکه خود طبل افتخارمی زند ونا امیدی ها رابه امید واقعی مبدل می سازد ومردم کشور خودرابه جایگاه افتخار ولایق شان قرارمیدهد ازنور چراغی که ملت ماباشکستن ابر قدرت کمونستی به جهانیان روشن کرده است لازم است بیش ازهمه خودما نیز مستفید گردیم .

ولې اسلامي نړۍ دجګړې ډګر دی...

دڅوکالو په جريان کې چې کومې تودې جګړې پېښې شوې هغه ټولې دمسلمانانو پرخاوره اودمسلمانانو دښمنيو پرسردي چې دايران اوعراق ، روس اوافغانستان ، کشمير،فلسطين ، لبنان ، فلپين ، سريلانکا يې ژوندي مثالونه دي چې اوس پردې ټولو غمونکو جګړو اوداسلامي نړۍ دبدن پرېښيره ټپونو برسيره يوبل سترغم او بله له ماتمه ډکه جګړه اوفاجعه دخليج ،هستي سوزونکې تباه کنه جګړه ده چې له هرې ګوليٍ اوهربم سره داسلامي نړۍ يوه لويه برخه شتمني اوهستي لوخړه کيږي ، اوس له موږسره اساسي سوال دادی چې ولې آخر داټولې بدمرغۍ ، جګړې اوماتمونه پر اسلامي نړۍ او داسلامي هيوادونو پرخاوره کې پيښيږي ؟ ولې يوازې اويوازې اسلامي نړۍ دجګړو اوفاجعو ډګرده اوله کلونو کلونو راپه دې خوا دتاريخ زياتره جګړې دنړۍ په هغه برخه کې پيښيږي چې مسلمانان پکې اوسي اودتوحيد کلمه پکې ويل کيږي ؟

آخر ددې علت څه دی چې که کفري ځواکونه يوله بله درقابت اومقابلې ډګرته راوزي بيا هم ددوی دزور ازمويلو ميدان کوم اسلامي هيوادوي ؟ آخر پراسلامي نړۍ به څه وخت دسولې اوامن کوترې وزرونه غوړوي اودجګړې ماتم اوويږ زاغان به ترې الوزي ؟

که په دې مسله لږځير شو اوغوروکړو هسې خطرناك سازشونه به راته ښکاره شي چې داسلامي نړۍ مستقل حيثيت ته به په مستقبل سترګواښ وي .

دافغانستان دمجاهد ملت په مقابل کې له روس سره دلويديز بووالی اودمجاهد ملت پرخلاف واحد دريځ نيول ، په منځنی ختيځ کې ټول کفري ځواکونه دعربو پرخلاف داسرائيلو ترشادريدل اوبالاخره په خليج کې صدام ته دعربو دامام خيال ورکول اوپرکويټ تيري ته دهغه هڅول ټولې ددې خطرناك سنجول شوي سازش اودسيسي کړۍ دي چې ترشا يې دبين المللي صهيونيزم څيره ښکاري.

دخليج په روانه انسانسوزه جګړه کې دغه حقيقت لا په ډاګه شو چې صدام ته پرکويټ ديرغل هڅونه دامريکايانو کارؤ ترڅو ګام په ګام خپل شوم نيتونه اوپروګرامونه عملي کړي ، همدغه دلويديزې نړۍ معتوب صدام حسين چې نن دهغه له لاسه دعراق دولس پرسرخرواروبه بمونه اوري پرون دامريکا اواروپا دښکيلاکي حلقو منلی ليډراونمايندهٔ چې دايران پرخلاف يې وسلې اومرستې ورسره کولې ، صدام پرون هم متجاوز ؤ اونن هم خو پرون هغه دايران پرخلاف دامريکا ، انګليس ، روس ، ايټاليې ، فرانسې اونورو هيوادونو له زياتومالي اوپوځي مرستو نه برخمن ؤ خونن دهمدغو هيوادونو په سلګونو الوتکې په زرګونو ځله بمونه ورباندې اوروليٍ اولا دغه لړۍ روانه ده .

دلته ده چې دښکيلاکګرو ښکيلاکي نيتونه ښه څرګنديږي اوښکاره ده چې په خليج کې روانه جګړه داسلامي نړۍ دبربادۍ اوغلامولو لپاره ده .

دکويټ اشغال دصدام يونه بخښونکی جرم دی خوددغه جرم اصلي عامل اوريښې ډيرې وړاندې دي ، چې که دقيق وڅيړل شي صدام هغه وخت مجرم ؤ چې پر ايران يې يرغل وکړاوبيا لوی مجرمان هغه څوك وو چې دصدام ترڅنګ ودريدل اوهغه يې دايران پرخلاف دجنګ دوام ته دروليٍ ؤ ترڅو په سيمه کې يو ستر اسلامي قوت « ايران» کمزوری اولاره خپلو راتلونکو شيطاني طرحو ته هواره کړي .

دادی نن په خليج کې دجګړې اوربل دی په هغه خليج کې چې دمسلمان ملکيت ؤ دمسلمان هستي وه اوداسلامي امت ترټولو زيات دښوهستيو مرکز ګڼلی شو خوافسوس چې نن دطاغوت ددسيسو په اور کې ...

اووم مخ کې

خبرتيا

ګرانو مجاهدينو ، مهاجرينو اوانصارو ورونو !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

په ډير درناوي سره خبردرکووچې :

دافغانستان دمجاهدينو راډيو دوه مياشتې کيږي چې په پرله پسې توګه يې په خپلو خپرونو پيل کړی دی .

تاسې کولی شی چې زموږ خپرونی فعلاً دورځې دوه ساعته په لاندې وخت اوڅپو واوری .

لومړۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهارله (۷) بجو څخه تر(۸) بجوپورې

دوهمه خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازيګر له(٥) بجو څخه تر(٦) بجو پورې

څپې :

په منځنۍ څپه (ميډيم)(۱۲۰۰) کيلوهيدز اوپه

لنډه څپه (شارټ) (۳,۲)ميګاهيدزچې له (۹۰)

متره باينډو سره برابره ده

دافغانستان دمجاهدينو دراډيوتلويزيون دلوی مديريت لخوا

دهيئـــت تحـريـر تـرنـظـر لانـدې

مکاتباتې پته

پـــوســـت بـــکس (۱۰۳۳)

يونيورستي تاؤن پيښور

تيلفون :... (٤١٧٤٦)

کشميري آزادي غوښتونکو دهند پرسرحدي پوځ پريوه موټر باندې حمله وکړه

سرينګر:

نړيوالو خبرځايونو له قوله ويل شوي چې پدې وروستيو کې دهندی ديرغلګرو پرخلاف دکشمير دازادی غوښتونکو پلو حملی زياتی شوی دی .

په خبرونو کې ويل شوی چې کشميری مجاهدينو په سرينګر کې دهند دسرحدی پوځ پريوه موټر باندی حمله کړی اوهمدارنګه يو پل يې دبم په واسطه راغورځولی دی .

دپروان په ولايت کې مجاهدينو ددښمن ۳۰ تنه عسکر اوصاحب منصب وژلي دي

پروان ميډيا:

دپروان ولايت مجاهدينو دخپل يوه څلوروړځنی بريد په ترڅ کې چې ددغه ولايت دتسم دری په سيمه کې دجنګل باغ دکلينك پر پوستو ترسره شو ، دړژيم ۳۰ تنه عسکر او افسران وژلی اودری نورېې ژوندی نيولی .

خبر زياتوی چې ددی جګړی په ترڅ کې ددښمن (۹) ټانګونه اويو تراکټورله منځه وړی اودښمن ته يې زيات مالی تاوان وراړولی .

دشهيد سليمان شاه دزرهدارو غونډيوعراده ټانګ

اسلام ددنيا د۲٤ هيوادونو رسمي دين دی

هانګ کانګ :

د« ايشيا ويك » اونيزی ديوی تحقيقی تبصری په ترڅ کې ليکلی دی چې اسلام ددنيا په سلو کې د(۸,۱۷) خلکو مذهب دی، چې ددی مذهب دوه برخی پيروان داسيا په وچه کې ژوند کوی .

همدارنګه دغه اونيزه ليکی چې اسلام د۲٤ هيوادونو رسمی مذهب دی اونيزه زياتوی دکومو له ډلی څخه چې اسلام هلته مذهب دی ، په سعودی عربستان کې دمسلمانانو شمير په سلو کې (۹۸.۸) ، په مصر کې (۹٤.۱) په ايران کې ۹۸ په پاکستان کې ۹٦.۷ اوپه بنګله ديش کې په سلو کې ۸٦.٦ دی .

همدارنګه په ترکيه کې چې په رسمی توګه سيکولر(لامذهبه) ده هم دمسلمانانو شمير ۹۹.۲ په سلو کې دی .

په نايجريا کې چې دنفوس له مخی دافريقا ترټولو سترهيواددی دمسلمانانو شمير ٤٥ په سلو کې دی داروپا په البانيه کې دمسلمانانو شمير په سلو ۲۰,٥ اوپه يو ګوسلاويا کې په سلو کې ۱۰.٤ اودلاتينی امريکې د« سرتيام » په هيواد کې دمسلمانانو شمير په سلو کې ۲۰ دی.

دآذربايجان پارلمان ددې هيواد دسوسياليستي حيثيت دختمولو اعلان وکړ

ماسکو:

دنړيوالو اژانسونو دخبر له مخی ويل کيږی چې داذربايجان جمهوريت پارلمان ددغه جمهوريت دنوم دبدلولو ،اودهغه له نوم څخه دسوسياليستی دکلمی دليری کولو فيصله وکړه چې وروسته لدی به ددی جمهوريت نوم داذربايجان سوسياليستی جمهوريت پرځای داذربايجان جمهوريت وی .

همدارنګه پارلمان فيصله وکړه چې ددی هيواد بيرغ به هم بدليږی ددی جمهوريت بيرغ سوراوآبی رنګ درلود چې دلور اوخته نشان پری لګيدلی ؤ اوس به پدی باندی شين رنګ هم ورزياتيږی او دلوراوختك پرځای به دستوری اوسپوږمۍ سپين نشان پرې لګيږي .

نظام دکتاتور شپ روس احياً می شود

انتخاب بسمر تنيخ بحيث يك کمونست پر سابقه نشان ميدهد که نظام سياسی روس ميخواهد باردیگر به مسير قبلی خود حرکت کند.

اين مطلب رادوکتور روان فرهادی يکی از سياستدانان سابق افغانستان ضمن مصاحبه بارادیو بی ، بی سی ابرازداشته افزوده است که در نظام روس صاحب منصبان نظامی باردیگر قدرت بدست می گيرند وګرباچف درمرحله کنونی باانها سازش نموده است

موصوف افزوده است ازحوادث که درجمهوری های بالتيك رخداده وطی ان نظاميان روس برمردم غير نظامی اسلحه استعمال نموده تعدادی راهلاك وتعدادی رامجروح نمودند ګرباچف ازين اقدام حمايت می کند قابل تذکر است که ادوارد شيواردنادزی وزير خارجه سابق شوروی نيز درهنګام استعفايش در ۲۰ دسمبر ۱۹۹۰ درپارلمان انکشور ګفت که نسبت مداخلات يکعده صاحب منصبان وعده که مخالف ازادی های مردم اند ازپست خود بحيث وزير خارجه استعفا ميکند .

حمله راکتی برميدان هوايی بګرام

مجاهدين طی حمله باراکتهای دوربرد برميدان هوايی بګرام دوطياره جت وچارعراده تانك دشمن را منهدم ساختند .

اژانس خبری ميديا به نقل ازپيغام راديويی يکی ازقوماندانان مستقر درکوه صافی نوشته است که مجاهدين باانداخت راکتهای سکر۳۰ ميدان هوايی بګرام رازير اتش قرارداده دوجت راباچارعراده تانك که درميدان هوايی وپوسته های اطراف ان قرارداشتند نابود نمودند .

همچنان درخبر امده است که مجاهدين بافيرراکت ها چندين پوسته دشمن راتخريب درحدود پانزده تن ازافراد رژيم رابه هلاکت رسانيدند .

درخبرعلاوه شده است که مجاهدين بااسير ګرفتن هفت عسکر وبا غنيمت بيست ميل کلاشينکوف يك ميل هاوان ويك ميل راکت ار، پی ، جی سلامت به مراکز خويش برګشتند .

طيارات رژيم کابل درانتقام اين حمله مراکز تجمع مجاهدين ومنازل مسکونی اهالی درمناطق پچه خاك وانګوردره بمباردمان نمودند که خوشبختانه تلفاتی راباخود نداشت .